# اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ

له ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی وايي: کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل لمونځ پای ته ورساوه نو درې ځلې به يې استغفر الله ويیل، او «اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ» به يې وويل، يعنې اې الله! ته سلامتيا ورکوونکی يې، او سلامتيا ستا لخوا ده، ډېر لوړ دی شان ستا، اې د جلال او عزت خاونده، وليد ويلي: ما اوزاعي ته وويل چې استغفار څنګه وي؟ هغه وويل: چې ووايي: أَسْتَغْفِرُ اللهَ، أَسْتَغْفِرُ اللهَ.

[صحيح] [مسلم روایت کړی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله لمونځ پای ته ورساوه نو: (أستغفر الله، أستغفر الله، أستغفر الله) به يې وييل. بيا به يې په خپلې دې وينا سره د خپل رب لويي بيان کړه: اللَّهمَّ أنتَ السَّلامُ، ومنْكَ السَّلامُ، تباركْتَ ذا الجَلالِ والإكرامِ " نو الله جل جلاله لره د هغه په صفتونو کې سلامتيا ده او هغه د بشپړو صفتونو خاوند دی، له هر عيب او نيمګړتيا څخه پاک دی، يوازې له هغه پاک ذات څخه د دنيا او آخرت له شرونو څخه سلامتيا غواړې، ځکه په دنيا او آخرت کې د هغه پاک ذات ښېګڼې زياتې دي، هغه د عظمت او نيک خاوند دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10947

النجاة الخيرية ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية EDC E-Da'wah Committee